Paschtu

کارلسروهه ښار
د ښوونځيو او سپورت لپاره دفتر

# لومړني ښوونځي ته ښه راغلاست

معلومات – په ساده ډول تشريح شوي



BILDUNGSREGION KARLSRUHE

Karlsruhe

## له کوم عمر څخه زما ماشوم باید ښوونځي ته لاړ شي؟

په آلمان کې ټول ماشومان له شپږ کلنۍ څخه حق او مکلفیت لري چې ښوونځي ته ولاړ شي. ستاسو د ماشوم د لومړني ښوونځي لپاره د نوم لیکنې نیټه هر کال د مارچ په میاشت کې ده. کله چې ستاسو ماشوم د ښوونځي عمر ته ورسیږي، د یو لیک د ترلاسه کولو په صورت کې به تاسو ته وویل شي ترڅو تاسو د خپل ماشوم نوم لیکنه چیرته وکړئ. اجباري زده کړه تر 18 کلنۍ پورې دوام کوي.

## د ښوونځي لګښت څومره دی؟

دولتي ښونځي ته ستاسو د ماشم پر استلو هيڅ لګښت نه راځي. درسي کتابونه هم وړیا دي. په هر صورت، د ښوونځي یا د ښوونځي د دورې یوې برخې لپاره ډیری شیان اړین دي چې والدین باید د هغی پیسی ورکړي. دا هغه توکي دي لکه د مشق یا تمرین کتابونه او قلمونه، د سپورت جامې یا د ښوونځي سفرونو لګښت. د ښوونځي څخه روسته پاملرنه او په ښوونځي کښې د غرمی د ګرمې ډوډئ لګښت هم راځي. هغه کورنۍ چې لږ عاید لري کولی شي د زده کړې د ګټو او ګډون لپاره مالي ملاتړ ترلاسه کړي.

**د زده کړې او ګډون لپاره ګټې**

## زما ماشوم د ښوونځي لپاره کومو وسایلو ته اړتیا لري؟

- د ښوونځي بکس
- د سپورت کڅوړه ورسره د سپورت لپاره د فزیکي تعلیم بسته (PE Kit)
- څښاک او ناشته د وقفې لپاره

درسي کتابونه په ښوونځي کښې ورکول کیږي. والدین به اړتیا ولري چې د تمرین کتابونه او قرطاسیه وپیري. ستاسو ماشوم به د ښوونځي څخه هغه څه ترلاسه کړي چې دوي ورته اړتیا لري.



## د ښوونځي ورځ څومره اوږده ده؟

په ډیری ښوونځیو کښې، درسونه د سهار په 7:45 یا 8:00 بجو پیل کیږي. هغه مهال/ وخت چې ښوونځی پای ته رسیږي توپیر لري او په مهال ویش پورې اړه لري. په نیمه ورځ ښونځیو کې، درسونه په معموله توګه له سهاره پیل کیږي. زده کونکي کولاې شي د غرمی ډوډۍ لپاره کور ته ولاړ شي.

په توله ورځ ښوونځي کښې، زده کوونکي د مازدیګر تر څلورو 4 بجو پورې باتې کیږي. دوي هماغه اندازه درسونه لري لکه څرنګه چې یې زده کوونکي په نیمه ورځ ښوونځي کښې لري، مګر دوي د غرمی ډوډۍ هم هلته خوري او د زده کړې، استراحت او لوبو وخت لري. تاسو اړتیا نلرئ چې د خپل ماشوم د زده کړې لپاره په ټوله ورځ ښوونځي کې پیسی ورکړئ.

**په کارلسروه (Karlsruhe) کې ټوله ورځ ښوونځي**



## زما ماشوم د ورځې پاملرنې ته اړتیا لري.
## د ماشوم پام لرنې کومې لارې چارې شتون لري؟

ستاسو ماشوم به د مازدیګر تر څلورو 4 بجو پورې په ټوله ورځ ښونځي کښې پاتې شي. دوي ته به هلته د ښوونځي ګرمه ډوډۍ هم ورکړل شي.

روسته له څلورو 4 بجو به، ستاسو ماشوم د اړتیا په صورت کې د پاملرنې لاندې وي.

د ښوونځي د هغه ماشومانو پالنه هم شتون لري چې د ټولې ورځې ښوونځي ته نه ځي: دوي کولای شي د ماسپښین تر یوی 1 یا دوه 2 بجو پورې د ماشومانو کاملی پاملرنې ځای ته لاړ شي او یا هم کولې شي د ښوونځي روسته په مرکز کې شامل شي، که چیرې شرایط یې پوره کړي وي. که تاسو یوازې په ځانګړو ورځو کې د ماشوم پاملرنې ته اړتیا لرئ، ځینې ښوونځي د ښوونځي څخه وروسته د انعطاف وړ پاملرنې وړاندیز کوي. د ښوونځي زده کړې او د ماشوم پاملرنې برابرولو ("School education and childcare provision") کتاب کې تاسو کولی شئ ومومئ چې په انفرادي ښوونځیو کې د ماشوم پاملرنې کوم انتخابونه شتون لري.
تاسو کولی شئ په ښوونځي کې هم پوښتنه وکړئ.

**د ماشوم د ښوونځي د زده کړې او پاملرنې کتابچه**






## زما ماشوم به څنګه ښوونځي ته لاړ شي؟

ماشومان کولی شی خپل لومړني ښوونځي ته پر پښو ولاړ شی. ډیری زده کونکی په پایسکل یا سکوټر هم ځی. د هر لومړني ښوونځي لپاره د ښوونځي د لارې نقشه شتون لري، کوم چې له کور څخه ښوونځي ته تر ټولو خوندي لاره ښيي. والدین کولی شي د خپلو ماشومانو سره په دې لاره د تګ تمرین وکړي، ترڅو دوي ښوونځي ته د تګ او راتګ تر ټولو خوندي لاره زده کړي.

**د کارلسروه لپاره د ښوونځي لارې نقشه**
**(School Route Maps for Karlsruhe)**

زده کوونکي ممکن خپل منځني ښوونځي ته د رسیدو لپاره لا نور سفر هم وکړي. که ستاسو ماشوم ښوونځي ته د بس یا اورګاډي له لارې سفر وکړي، تاسو به د لګښت یوه برخه تادیه کړئ. مهرباني وکړئ د دې په اړه د خپل ماشوم د ښوونځي په دفتر کې پوښتنه وکړئ.

که ستاسو ماشوم معلولیت ولري یا یو ځانګړي ښوونځي ته ولاړشي، د سفر لګښتونه په بشپړه توګه پوښل شوي.



## آیا په ښوونځي کې خواړه ورکول کيږي؟

زده کوونکي سهارنۍ وقفې لپاره خپل خواړه راوړي. دوي باید خپل څښاک هم راوړي. ډیری ښوونځي د اوبو ویشونکی لري، چیرې چې ماشومان کولی شي د اوبو بوتلونه ډک کړي.

ګرم خواړه د ټولې ورځې په ښوونځیو او له ښوونځي روسته په مرکزونو کې شتون لري. ډیری نور ښوونځي خوراکي پلورنځی لري، چیرې چې زده کونکي کولی شي د غرمې ډوډۍ ترلاسه کړي. د غرمی ډوډۍ د هغو زده کوونکو لپاره وړیا ده چې د زده کړې او ګډون لپاره امتیاز ترلاسه کوي.

**ټوله ورځ ښوونځي**

**له ښوونځي روسته مرکز**

**د زده کړې او ګډون لپاره ګټې**





## کورنۍ دنده؟!


کورنۍ دنده زده کوونکو ته اجازه ورکوي تر څو هغه څه تمرین کړي چې دوي په ښوونځي کې زده کړي دي. کورنۍ دندې د اونۍ مهال ویش یا د کورنۍ دندې په کتاب کې لیست شوي دي. ماشومان باید خپله کورنۍ دنده پخپله بشپړه کړي. په هر صورت، دوي کولې شي د مرستې غوښتنه وکړي که چیرې داسې څه وي چې دوي نه پرې پوهیږي. که ستاسو ماشوم د خپلې کورنۍ دندې سره مرستې ته اړتیا ولري، مختلف انتخابونه شتون لري. ډیری ښوونځي، د بیلګې په توګه، د کورنۍ دندې د څارنې ناستې وړاندې کوي. مهرباني وکړئ د خپل ماشوم په ښوونځي کې پوښتنه وکړئ. هغه ماشومان چې له ښونځي روسته مرکز ته ځي، هلته خپله کورنۍ دنده ترسره کوي. ماشومان په ندرت سره د ټولې ورځې په ښوونځیو کې کورنۍ دنده ترلاسه کوي. دا مهمه ده چې ستاسو ماشوم خپله کورنۍ دنده بشپړه کړي او په سمه توګه یې ترسره کړي. تاسو کولاې شئ د ښوونکي سره خبرې وکړئ، که چیرې ستاسو ماشوم د کورنۍ دندې په تر سره کولو کې ستونزه ولري.

## تاسو باید څه وکړئ که ستاسو ماشوم ناروغ وي؟

که ستاسو ماشوم ډیر ناروغ وي او ونشي کړای چې ښوونځي ته حاضر شي، تاسو باید ښوونځي ته خبر ورکړئ. ستاسو ماشوم اړ دې ترڅو د دوي د نشتوالي دلیل وړاندې کړي.

مهرباني وکړئ له ښوونځي څخه وپوښتئ تر څو دا کار څنګه ترسره شي. د مثال په توګه، آیا دا ممکنه ده چې ښوونځي ته تلیفون وکړئ یا تاسو باید بریښنالیک واستوئ؟

که ستاسو ماشوم د اوږدې مودې لپاره ناروغ وي، ښوونځی ممکن د ډاکټر د سند غوښتنه وکړي. تاسو کولی شئ د خپل ماشوم ډاکټر څخه سند ترلاسه کړئ. که ستاسو ماشوم ساري ناروغي ولري، دوي باید په کور پاتې شي ترڅو بیرته ورغیږي.



## ښوونیز کال کله پیلیږي او د ښوونځي رخصتۍ کله وي؟

په باډن-ورټمبرګ (Baden-Württemberg) کې ښوونیز کال د سپټمبر په میاشت کښې پیل کیږي. د راتلونکي کال د جولای په میاشت کې پای ته رسیږي. دا هغه وخت دی چې د دوبي رخصتۍ هم پیلیږي. د کال په اوږدو کښې د ښوونځي نورې رخصتۍ هم شتون لري. عامه رخصتي هم شتون لري چې پکښې ښوونځي تړلې وي. تاسو کولی شئ د ښوونځي رخصتۍ په ښوونځي کې یا د رخصتۍ په مهال ویش کښې ومومئ.

**په کارلسروه (Karlsruhe) کې د ښوونځي د رخصتیو نیټې**



## آیا زما ماشوم باید په مذهبي رخصتیو کې ښوونځي ته ولاړ شي؟

هغه زده کوونکي چې د مذهبي ټولنې سره تړاو لري باید په مهمو مذهبي رخصتیو کې ښوونځي ته ولاړ نشي. په هر صورت، په دې ورځو کې د ماشوم غیر حاضري باید لومړئ د ښوونځي سرښوونکي لخوا ومنل شي.

ددې معلومولو لپاره چې کومې مذهبي رخصتۍ پلي کیږي، مهرباني وکړئ د باډن- ورټمبرګ (Baden-Württemberg) آیالت د ښوونځي د حاضرۍ مقرراتو ته مراجعه وکړئ. تاسو کولی شئ د خپل ماشوم په ښوونځي کې هم پوښتنه وکړئ.

**د باډن- ورټمبرګ (Baden-Württemberg) آیالت د ښوونځي د حاضرۍ مقررات**

## زما ماشوم د ښوونځي په رخصتیو کې څه کولی شي؟

ټوله ورځ ښوونځي او د ښوونځي څخه وروسته مرکزونه د ښوونځي د رخصتیو په جریان کې د ماشوم پاملرنې وړاندیز کوي. نورې اداري هم شتون لري چې په رخصتیو کې د ماشومانو لپاره ډیرې بیلابیل فعالیتونه پرمخ وړي. تاسو به د دې ډیرو فعالیتونو لپاره راجستر کولو ته اړتیا ولرئ. تاسو کولې شئ د کارلسروه (Karlsruhe School Holiday Portal) ښوونځي د رخصتۍ لایحې د کتلو له لارې معلومات ترلاسه کړئ.

**د کارلسروه (Karlsruhe) ښوونځي د رخصتۍ لایحه**



# څنګه پوهیدې شم چی په ښوونځي کې څه پیښیږي؟

که تاسو د ښوونځي، د درسونو یا ستاسو د ماشوم پرمختګ په اړه کومه پوښتنه لرئ، کولاې شئ تل د خپل ماشوم ښوونکي څخه وپوښتئ. تاسو به د ښوونځي څخه منظم معلومات هم ترلاسه کړئ، د بیلګې په توګه، د ټولګي فعالیتونو او ستاسو د ماشوم په اړه.

هغه لارې چی تاسو کولای شئ معلومات ترلاسه کړئ یا ښوونکي سره خبرې وکړئ:

## د والدینو ماښام

د نوي ښوونیز کال په پیل کښې، د هر ټولګي لپاره د والدینو ماښام وي. د والدینو ماښامونه معمولا د اکتوبر په میاشت کې ترسره کیږي. دا پداسې حال کی ده چې تاسو کولی شئ د ښوونکو سره لیدنه وکړئ او د درسونو په اړه مهم معلومات ترلاسه کړئ. د والدینو په ماښام کې د والدینو استازي هم ټاکل کیږي. ډیری وختونه سفرونه او جشنونه د والدینو او ماشومانو لپاره تنظیم شوي وي ترڅو یو ځای خوند واخلي.

## د والدینو مشوره

د والدینو په مشوره تاسو دا فرصت لرئ چې ښوونکي سره د خپل ماشوم په اړه خبرې وکړئ. د والدینو مشورې ډیری وختونه په ابتدایي ښوونځیو کې ترسره کیږي. تاسو به په مشوره کې د ګډون لپاره بلنه ترلاسه کړئ.

که اړتیا وي، تاسو کولای شئ یو ژباړونکۍ ترلاسه کړئ چې د والدینو مشورې لپاره ستاسو په ژبه خبرې کوي. دا وړیا ده. پدې اړه له ښوونکي څخه وپوښتئ.

که تاسو د خپل ماشوم په اړه اندیښمن یاست یا د ښوونځي په اړه پوښتنې لرئ، تاسو کولای شئ تل د ښوونکي سره د لیدلو غوښتنه وکړئ.

**د والدینو د مشورې لپاره ژباړونکي**



## د ښوونځي لیکونه

زده کوونکو ته ډیری وخت لیکونه ورکول کیږي چې کور ته یې یوسي. دا د والدینو لپاره مهم معلومات لري. ځینې وختونه داسې سندلیک وي چې والدین یی باید لاسلیک کړي. زده کوونکي بیا لاسلیک شوې سند بیرته ښوونځي ته راوړي.

## د کور کتاب / کتابچه

د لومړني ښوونځي ماشومان ډیری وخت د کور کتاب / کتابچه لري چی تاسو کولای شئ په هغې کښې ښوونکي ته پیغامونه ولیکئ، د بیلګې په توګه، که ستاسو ماشوم د کور په کار کښې ستونزه ولري، یا که تاسو غواړئ د ښوونکي سره د لیدلو وخت تنظیم کړئ.

## بریښنالیک یا ټیلیفون

ځینې ښوونځي د بریښنالیک یا ټیلیفون له لارې والدینو سره اړیکه نیسي.



## د مور یا پلار په توګه ښوونځی زما څخه څه تمه لري؟

والدین او ښوونځی په ګډه د ماشومانو د ښوونې او روزنې مسؤلیت لري. د مور او پلار په توګه، تاسو د ښونځي لپاره تر ټولو مهم ملګري یاست کله چې ستاسو د ماشوم د پرمختګ او روزنې موضوع وي. نو ځکه، دا خوراً مهمه ده چې تاسو د مور او پلار په ماښامونو او د والدینو مشورې وختونو کې ګډون وکړئ. کله چې ښوونځی تاسو سره اړیکه ونیسي دا هم مهمه ده چې تاسو موجود واوسئ.

د مور او پلار په توګه، تاسو مسؤلیت لرئ چې ډاډ تر لاسه کړئ ترڅو ستاسو ماشوم په منظمه توګه او په وخت سره ښوونځي ته راځي او همدارنګه دوي د ناروغۍ په صورت کښې معاف دي. ښوونځی له تاسو تمه لري ترڅو ستاسو ماشوم خپله ټوله کورنۍ دنده بشپړه کړي او دوي د ټولو اړینو وسایلو سره ښوونځي ته راشي.

والدین په ښونځي کې مهم رول لوبوي. دوي په ښوونځي کې د ماشوم د ژوند په جوړولو کې مرسته کوي. والدین د خپلو نظریاتو په شریکولو او د ښوونځي په جشنونو، پروګرامونو او فعالیتونو کې مرسته کوي. دوي ددې ډاډ ترلاسه کولو کې مرسته کوي چې ښوونکې، ماشومان او والدین د ټیم په توګه یوځای کار وکړي.



## څنګه کولای شم په ښوونځي کې د خپل ماشوم ملاتړ وکړم؟

والدین کولای شي ډیر څه وکړي ترڅو خپلو ماشومانو ته د خوښۍ احساس ورکړي او په ښوونځي کې ښه زده کړه وکړي.

تاسو کولای شئ د خپل ماشوم سره مرسته وکړئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې دوي کولای شي په ښوونځي کې ښه تمرکز وکړي. د مثال په توګه، کافی اندازه خوب، منظم خواړه او په تازه هوا کې ډیر تمرین ټول مهم رول لوبوي. تاسو کولای شئ د خپل ماشوم سره هم مرسته وکړئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې دوي په خپل ټیلیفون، کمپیوټر، لوبو یا تلویزیون لیدلو کې ډیر وخت نه تیروي.

ستاسو ماشوم به ښوونځي ته د تګ څخه خوند واخلي که چیرې دوي هلته ملګري ولري. تاسو کولای شئ خپل ماشوم وهڅوئ ترڅو دوي ته دا وړتیا وربه برخه کړئ چې په ښوونځي کې د نورو ماشومانو سره ملګري شي. ډیرې وختونه، د نورو والدینو سره ملګرتیا او تعامل هم په دې ډول وده کوي.

تاسو به د خپل ماشوم ملاتړ کړی وي، که چیرې د هغوي سره د ښوونځي په کارونو کښې لیوالتیا وښایې. تاسو کولی شئ تل د ټولګي ښوونکي سره خبرې وکړئ که تاسو اندیښمن یاست یا فکر کوئ چې ستاسو ماشوم مرستې ته اړتیا لري. په هرصورت، تاسو هم د خپل ماشوم ملاتړ کوئ پداسې حال کښې چې تاسو هغه وهڅوئ ترڅو پخپله هغه شیان ترسره کړي چې دوي یې کولی شي.



## که زما ماشوم په ښوونځي کي ستونزې ولري چاته مراجعه کولای شم؟

که ستاسو ماشوم په ښوونځي کښې ستونزه ولري، د ټولګي ښوونکۍ د اړيکې نيولو لومړنې جهت دې. په هر ښوونځي کې د ښوونځي ځانګړي روزل شوي مشاورين هم شتون لري. دوي کولای شي مشوره ورکړي، د بیلګی په توګه، د زدکړې ستونزې يا غير معمولي چلند.

که چيري په ښوونځي کښې يا په کورنۍ کې ستونزه شتون ولري، تاسو کولای شئ د ښوونځي ټولنيز کارمند سره هم اړيکه ونيسئ. دوي کولای شي مرسته وکړي که چيرې، د بیلګی په توګه، ستاسو ماشوم په ښوونځي کې د ښوښی احساس نه کوي يا که تاسو د والدينو په اړه کومه پوښتنه لرئ. د ښوونځي ټولنيز کارمندان هم کولای شي تاسو ته ووايې چې کومې لارې چارې شتون لري که چيرې تاسو يا ستاسو ماشوم مرستې ته اړتيا ولري.

**په کارلسروه (Karlsruhe) کې د ښوونځي ټولنيزې دندې خدمت**





## يادښتونه

## اداریه

**کارلسروهه ښار**
**د ښوونځیو او سپورت لپاره دفتر**


Blumenstraße 2 a, 76133 Karlsruhe
تلیفون: 0721 133-4166
برېښنالیک: bildungskoordination@sus.karlsruhe.de

اداریه: Hopfengärtner
ترتیب: Streeck
انځورونه: www.hob-design.de | Seite 14 P. Mohila
چاپ: Rathausdruckerei, Recyclingpapier

نسخه: اکتوبر 2021